ختيځ بيا رغونې اداره (کور)
Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

قاموس

# پښتني قبيلې او خېلونه

د افغانستان د علومو اکاډېمي
د پښتو څېړنو نړېوال مرکز
(د ريسرچ څانګه)

د سرڅېړونکي مرستيال حسن ګل "بانډه وال"

ختیځ بیا رغوني اداره (کور)

خپرونو څانګه، خپرنی لړ ۳۴

# پښتني قبیلې او خېلونه

## (قاموس)

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز د ریسرچ څانګې پنځه کلنه څېړنه

د سر څېړ ونکي مرستیال حسن ګل "باندوال"


PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY

3 ACKU 00011536 9

بسم الله الرحمن الرحيم


## کتاب پېژندنه

کتابنوم : پښتني قبيلې او خپلونه

ځېرونکی : د سرځېرونکي مرستيال حسن ګل بانډه وال

خپرونکی : ختيځ بيارغونې اداره (کور)

ټايپ: نعمت الله رسولي، ملګزی ساجد، ق. هېوادپال

ډيزاين: ف. بزګر، ن. رسولي، قدرت الله هيوادپال

چاپ چارې: ډاکټر محمد فريد بزګر

چاپ لګښت : افغاني کلتوري ټولنه په نيويارک کې

چاپنېټه : تله ۱۳۸۰هـ ل/ اکتوبر ۲۰۰۱ع، رجب المرجب ۱۴۲۲هـ ق

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

خپرنی لړ : ۳۴



© د چاپ ټول حقوق خوندي دي!



زموږ پته: GPO Box 607. Peshawar. Pakistan

E- mail: kor_bazger@hotmail.com


د ارتباط نورې پتې د کتاب په پای کې وګورئ!

ACKU

کشمیر نه تر هرات هورې
بلوچستان نه تر دَ دورې
دا ټول پښتون دی هر چېرې
څرنګه پروت ذرې ذرې
د یو وجود پشانې کړې
یا خدایه! دا ذره ذره
لویو تپو د پښتنو
په غره په سمه پرتو درنو
نمسو د لویو پرګنو
راځۍ چې یو شو لیونو
یا خدایه! ورانه کړې
سپیره بېلتون لره دېره

"اروانباد مخفي"

ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

# يو څو خبرې

د دې پښتني قبيلوي خيلونو په باره کې ښه ښايسته ډېر تقريظونه، سريزې او هر اړخيز معلومات د نوموړي قاموس په مخ کې وراچول شوي دي په دغه مخينه کې غوارم يوازې د دې قاموس د پای د عمليو او چاپ ته د اماده کولو او دکار د څرنګوالي په باره کې يوه لنډه تبصره وکړم، او هغه دا چې د دغه اتنيکي څېړنيز قاموس په باره کې د پښتني قبيلوي خيلونو مينه والو او لوستونکوته ور په ډاګه کړم چې د اخيرنيو کومو پيچومو او خنډونو څخه نوموړی قاموس تېر شوی دی.

- تقريباً (۱۶) کاله مخکې په کاربن پيپر ليکل شوې څلورمه نسخه وه چې په خاني ډول سره په ډېر تت خط سره وه او د وخت په تېرېدو سره نوره هم تته شوې وه، چې لوستل يې زما او کمپيوترست لپاره ګران وو.

- کله چې له نن څخه (۱۶) کاله مخکې ما خپله علمي ترفيع (د سرمحقق مرستيال) د افغانستان د علومو د اکاډمۍ څخه واخېسته، د کابل څخه هجرت ته مجبور شوم او نوموړی قاموس مې د نورو کتابونو او اسنادو سره په خپل شخصي کور کې د يخچال په صندوق کې بندي کړ.

د جهاد د بريالیتوب څخه څه موده وروسته زه هم د خپل کور او سامان د ليدلو لپاره کابل ته ولاړم صندوق مې چې پرانيست، ګورم چې په کتابونو څڅوبي شوي او په څنګ کې يې موږکانو هم خپل پوره کار کړی دی. له يو شمېر کتابونو او اسنادو څخه يې بور جوړه کړې. دې حالت ډېر غمجن کړم او په هماغه وخت کې مې وپتيله چې د دې قاموس په محتوا زه نوره څېړنه هم کوم او چاپ ته به يې سپارم. څېړنه مې له کابل څخه پيل کړه مرحوم پوهاند محمد محسن فورملي د علومو د اکاډمۍ رئيس و او ما ته يې وويل چې: ما پخپله څېړنه کې فورموليان کاکړ پښتانه ثابت کړي دي او دا څېړنه په نشريو او جرايدو کې هم خپره شوې ده ته يې هم په خپل قاموس کې ورزيات کړه هماغه وو چې فورموليان کاکړ پښتانه دي، په خپل قاموس کې مې ورځای کړه.

کله چې پېښور ته راغلم نوي ماخذونه او معلومات په لاس راغلل او په قاموس کې مې ورځای کړل سربېره پر دې د يو شمېر خلکو سره مې مصاحبې

وكړې او معلومات مې ورڅخه تر لاسه كړل او په قاموس كې مې وليكل د دې په خوا كې مې يو شمېر زايدې برخې چې د نسبي شجرو سره يې اړيكې نه درلودې، له قاموس څخه ليرې كړې

د قاموس په پاى كې مې د نسبي شجرو د ښه وضاحت لپاره نسبي ګرافونه چې له كل څخه جز ته (نژاد – كام – تپه – پښه – كهول – كورنى) راوړل يعنې دا كار د لومړۍ برخې (قاموس) برعكس كار دى.

اساسي موضوع د چاپ وه زما خو دومره وس او قدرت نشته چې پر خپل لګښت يې چاپ كړم يوې خوا او بلې خوا مې منډې ترړې وكړې چې د چاپ لپاره يې يو مدرك پيدا كړم. له نيكه بخته د ختيځ بيارغونې ادارې (كور) له مشر ډاكټر صاحب محمد فريد بزګر سره مخامخ شوم د زړه خواله مو سره وكړه او دې تاييد كړه چې بايد دا قاموس ضايع نه شي او چاپ شي، موږ به هڅه وكړو چې د چاپ لپاره يې څه مدرك پيدا كړو. نو دا كتاب نومړي ته د چاپ لپاره وسپارل شو. له نومړي او د كور له نورو تكړه او بااحساسه كاركوونكو هر يو ښاغلي نعمت الله رسولي، قدرت الله هېوادپال او قاري ملكزي ساجد څخه ډېره مننه كوم چې هر يو په پوره حوصله او پاك نيت د كتاب په ټايپ او ډيزاين كې نه ستړې كېدونكي هلې ځلې كړي دي. د خداى (ج) څخه ورته روښانه اينده او د لاډېرو بريالېتوبونو غوښتنه كوم امين.

ضميمه ځكه ورزياته شوه كه يو څوك خپل نسب په قاموس كې پيدا نكړاى شي، نو د ضميمې له ليارې به وكولاى شي چې خپل نسب پيدا كړي.

ښايي يو نسب د قاموس په اوله برخه كې وي او دويمه برخه كې نه وي، علت به يې دا وي چې د قاموس په لومړۍ برخه لږ زيات كار شوى دى.

په دغه لاركې اشتباهات او سهوې په ماخذونو كې زياتې دي او دا قاموس د تېرو ماخذو يوه لړۍ ده خو باور لرم چې د نورو ماخذونو په پرتله به دلته نوي معلومات ډېر راغلي وي او كوښښ شوى دى چې سهوې او اشتباهات په كې كم وي. بيا هم كه دكومې اشتباه سره مخ شوئ لطفاً زما سره په تماس كې شئ چې هغه اشتباهات په بل چاپ كې اصلاح او سمونې په كې وشي.

په پاى كې په ښكلي اسلامي افغانستان كې ژر تر ژره د سولې او ارامۍ په هيله. بريالي او خوښ اوسئ.

د سرمحقق مرستيال

حسن ګل (بانده وال)

# د ښښونکې ښښتن په نامه

## د خپرونکي سريزه

موږ ته د ډېر وياړ ځای دی چې افغانانو او په ځانګړي ډول پښتنو ته د دوی د قبيلو او خيلونو په اړه خورا ستر ځېړنيز اثر وړاندې کوو.

د دې اثر د محتوياتو په اړه ډېر تقريظونه او سريزې به تاسې د کتاب په پيل کې ولولئ، زه يوازې د کتاب د خپريدو او د هغې د اهميت او ستونزو پـه اړه يـو څه وړاندې کوم.

د پښتنو په اړه پخپله د پښتنو څېړونکو په وسيله څېړنې د ګوتو په شمېر دي، نو لـه همدې کبله دا څېړنه د ډېر اهميت وړ ده. هيلـه ده چې دا پـه زړګونـو پښتنې قبيلې او خيلونه سره ټول ځان په يو نوم يعنې پښتون ياد کـړي، او دغـه خيلونـه يوازې د ځان پېژندنې لپاره وکاروي نه د ځانځانۍ او دښمنۍ لپاره. پـه حقيقـت کې د ځمکې د مخ ټول پښتانه د يو پلار اولاده او ټول سره  وروڼه دي. تفرقـه او قامولي او يا د قام او خيل په نوم جګړې د ډېرو ورسـته پـاتې ټولنـو ښکـارندوي کوي. د پښتنو دښمنان پښتانه په مختلفو نومونو او خيلونو سره  جلا کوي او يـو د بل په مقابل کې ودروي او د پښتنو د مختلفو ټبرونو او قومونو څخه پـه خپلـه ګټه کار اخلي. د دې څېړنې څخه څرګنديږي چې ټول پښتانه خيلونه پـه پـای کـې ټول د يو پلار اولاد او ټول پښتانه خيلونه سره وروڼـه او يـو د بـل مـټ او  ملاتـړ دی، پښتانه بايد په خپل منځ کې سره دښمنې ونـه کـړي او ټولـو تـه ځان د يـو پښتون په نوم څرګند کړي نه د کوم قوم او خيل په نوم.

کله چې محترم باندېوال صاحب د دې کتاب پـه اړه زما سره وغږېده نـو مـا ورسره ژمنه وکړه چې زه به ډېره هڅه وکړم چې د چاپ لپاره يـې څه لاره ګودر وګورو، خو کله چې ما د کتاب قلمي نسخه چې په لويه کچه کـاغذ کـې پـه لاس ليکل شوې وه او پرته له تقريظونو، سريزو، او ضمايمو يې ټول ٦٠٦ مخه درلـودل، وليده، نو په زړه کې مې تېره شوه چې خدای مه کړه ژمنه مې نيمګړې پـاتې نـه شي. د کور لپاره دا خورا غټ او ستر کار و، خو په هر ډول چې و، د کتاب ټايـپ ته مو پيل وکړ. او په دې ترڅ کې له دوستانو سره په تماس کې و چې د کتـاب د چاپ لپاره مالي لګښت برابر کړو. خـبره مـې د کـور د بـهرنيو اړيکـو لـه مسوول محمد طارق بزګر سره چې زما کشر ورور او په ناروې کې د دعوت چلونکـی هـم

دی مطرح کړه. څه ورځې وروسته یې راته احوال راکړ چې محترم ډاکټرعبدالحی نیازي د افغاني کلتوري ټولنې مشر په نیویارک کې را سره ژمنه وکړه چې د "پښتني قبیلې او خیلونه" کتاب مالي لګښت پر غاړه واخلي. نوموړي د کتاب د چاپ اټکلي لګښت غوښتی و، کله چې ما له مسوول کس څخه د اټکلي لګښت پوښتنه وکړه، له ډاره مو یو څو روپۍ نورې هم ترې کمې کړې، د نوموړي دې کور ودان وي، مور ته یې څومره پیسې چې مو ترې غوښتې وې (٦٥٠ امریکایي ډالر) راواستولې، خو کله چې کتاب چاپ ته د چمتو کېدو په حال کې و، او له سره مو د کتاب د چاپ سهي لګښت وټاکه تقریباً د اټکلي لګښت پوره دوه چنده وو، نو مجبور شو، چې بیا له دوستانو سره په تماس کې شو، د ښاغلي لطیف جان بابي، ښاغلي تورنپال بابي او ښاغلي عبدالقاهر خان توخي دې کور ودان وي ټولو په ګډه ۲۵۰ امریکایي ډالر هم د دې پروژې لپاره راولېږل، نور بار کور په اوږه واخیست، چې په دې ډول د کتاب د چاپ یو څه امکانات برابر شول.
د محترم بانده وال صاحب د غوښتنې پر اساس له اصلي څېړنې سره د پښتنو قبیلو چارټونه هم ورزیات شول، چې د هغې کمپیوټري ډیزاین ډېر وخت ونیوه، او دغه پروسه هغه وخت ډېره ستونزمنه شوه، کله چې زموږ د یو کمپیوټر هارډ ډسک په کومو کې چې دا چارټونه ډیزاین شوي و، بیخي کار پرېښود. نو مجبوراً تقریباً د دوه درې میاشتو کار بېرته له سره شو.
د کتاب د مالي مرسته کوونکو په څنګ کې د کور له ډېرو فعالو کارکوونکو ښاغلي نعمت الله رسولي، ښاغلي قدرت الله هېوادپال او ښاغلي ملکزي ساجد څخه ډېره مننه کوم چې د کتاب د ټایپ او ډیزاین درووند کار یې پای ته ورساوه.
ښاغلي باندہ وال ته د دې ستر کار په کولو مبارکي وایم. هیله ده چې په دې وسیله مو درنو هېوادوالو ته یو څه خدمت کړی وي.

خورا درنښت
ډاکټر محمد فرید بزګر
د ختیځ د بیا رغونې ادارې (کور) مشر

# سریزه

افغان کلتوري ټولنه په نیویارک کې ویاړي چې د "پښتني قبیلې او خیلونه" کتاب چې یوه بشپړه علمي څېړنه ده د دې ټولنې په مالي مرسته چاپېږي.

د پښتنو د قومونو اتنیکي جوړښت د ملي ځان پېژندنې او ملي یوالي سټر ټولنیز، سیاسي او علمي بنسټ جوړوي او د لرو برو پښتنو د راتلونکي نسل لپاره د ملي هویت د شالید (پس منظر) لپاره لوی قدم او د خپل ټاټوبي د پېژندنې په اړه خورا ډېر ملي ارزښت لري.

موږ بې له دې نه چې د کتاب په محتویاتو خبرې وکړو غواړو چې د (ETHNICITY) پوهېدلو د علمي ارزښت په هکله څه لنډ معلومات وړاندې کړو. د اتنوس (تبر، قوم، ختبه) کلمې سره له دې چې نوې علمي اصطلاح ده مګر د اتیمولوژي (ریښه پېژندنې) په لحاظ یوه زړه یوناني اصطلاح ده. خو اوس د اتنوس او هغه مشتقات (اتینیك) د اوسنو د ژبني او قبیلوي جوړښت په اړوند استعمالېږي.

د اتنوس نننی مفهوم تېر دی چې په ښکاره ډول د نولسمې (XIX) پېړۍ په نیمایي کې د فرانسوي او آلماني انتروپولوژستانو لخوا استعمال شوی دی. د اتنوس کلېمې څخه د ټولنپېژندونکو لخوا د تېرپېژندنې لپاره د یو علمي ارزښتناکه مفهوم په حیث کار اخستل شوی دی. که څه هم روسي ټولنپېژندونکو د اتنوس اصطلاح د وګړو، خلکو یا ولس لپاره استعمالوي مګر په لوېدیځو آثارو کې د دې کلېمې Ethnicity مشتقات Ethnic group، Ethnic Community او Ethnic unit د وړو بشري ټولنو لپاره استعمالېږي. نو ځکه د اتنوس او نیشن (ملت) کلېمې د توضیحاتو مستلزم دي. د بېلګې په توګه د انګلیسي Nation کلیمه دومره جامع ده چې د قبیله، خلك، اتینیکي ټولنه، دولت، هېواد او مستقل هېواد مفاهیم افاده کولای شي. خو په روسي ژبه نیشن دوه مفهومه افاده کوي، یعنې

حقیقي (تل پاتې اتنیکي ټولنه) مجازي: هېواد، دولت. په دې توګه د اتنوس (ټبر) او نیشن (ملت) کلیمې یو له بل سره نه شلېدونکې اړیکې لري. د اتنوس کلیمه په اتنوګرافیك (ټبر پېژندنه) لحاظ د قوم او قبیلې د پېدا ښت او جوړښت پوري اړیکې نیسي چې د ټولنې د جوړښت (فرماسیون) په معینه ټولنیز او اقتصادي مرحلې سمون خوري. همدارنګه چې د ټولنې قبایلي جوړښت د فیوډالي مرحلې سره سمون خوري. نیشن هغه اتینکي ټولنه ده چې د بورژوازي (د پانګه والی فرماسیون) د مرحلې مشخصه ده. دا ډېر ګران کار دی چې د اتنوس انتروپوژنیز (ټبر پېدا ښت) په یو مشخص چوکاټ کې مطالعه شي، او د یو قوم پېدا ښت مشخصاً یو نژاد ته منصوب شي ځکه چې د انتروپولوژیك په چوکاټ کې د یو قوم جوړښت او پېدا ښت مختلف ډولونه لري.

د پښتنو د قومونو جوړښت او د هغوی پېژندنه یوې ژورې انتروپولوژستیك مطالعې ته اړتیا لري ځکه چې دا اوسني پښتانه په دې باندې قانع کول ډېر ګران کار دی. چې ګواکې پښتانه د قیس (عبدالرشید) اولاده ده، او عبدالرشید درې زامن درلودل چې هر یو سړبن (Serrebun) (ځړبن)، بیټ (Betnee) او غرغښت (Ghoorghoosth) نومېدل او ویل یې چې غرغښت کرلان په خپل زوی ولی (فرزندی) باندې نیولی وو او همدارنګه غلزیان (غلجیان) د بي بي متو اولاده وي او د شاه حسین غوري نامشروع زامن وي. نو په تاریخي لحاظ څنګه ممکن ده چې د سلطان محمود مور غلجی وي او د محمود په لښکر کې ډېره برخه غلجي وي او بیا غلجي د شاه حسین غوري اولاده وي چې غوریان د غزنویانو په دوره کې مقتدره قبیله وه. او د بي بي متو اولاده به دومره ډېره وي چې د غزنویانو سلطنت ونړوي. یا دا چې پښتانه په اتنستي لحاظ د بني اسرائیلو د دولسو قومونو یو ورك شوی قوم وي، مګر د اعرابو د حملې په وخت کې په اوسني افغانستان کې یو ورك شوی (بني اسرائیل قوم) یا د عبدالرشید اولاده دومره ډېر او غښتلي شوې وي چې د فراه څخه نیولې تر کابله پورې د عربي اسلامي لښکر په مقابل کې د نوي کالو لپاره سخت مقاومت وکړي. او د کابل ښار په لوېدیځ کې د دفاع په خاطر د غرونو په سر دیوالونه جوړ کړي. نو ځکه موږ له تاریخي وقایعو له مخې په دې باور یو

چې پښتانه کېدای شي د څړبن، غرغښت، بېټ او کرلاڼي اولاده وي مګر اټکل کېږي چې د دوی اتنيستي ريښې او قومي جوړښت د کوشاني د امپراتوري بنسټ جوړوي او په قوي اټکل د آرين د نژاد ستره څانګه ده. نو په دې صورت د موندل شويو آثارو او کتيبو پر اساس لرغونې پښتانه د اسلام له مخه د بودايي او زردښتي تمدنونو بنسټ جوړاوه. په هر صورت د قيس عبدالرشيد په زامنو کې راساً د کرلاڼي داخلول د خوشحال بابا (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) له دې لاندې رباعي سره سمون نخوري.

پښتـــــون پـــــه اصـــــل کـــــې څړبنـــــي دی
يـــــا غرغښتـــــي دئ يـــــا بيټنـــــي دی
لـــــودي، غلجـــــي دي د بيټنـــــي لـــــه لـــــوره
پـــــه څړبـــــن پـــــورې بيـــــا کـــــرلاڼي دی

د انتروپولوژي او ټولنې پېژندنې پر اساس د يو ملت لپاره دا ډېره ارزښتناکه ده چې د خپل اتنيستي، قومي پيدايښت او جوړښت په باره کې علمي معلومات ولري. له کومه ځايه چې قبايلي نظام او قومي جوړښت د فيوډالي مرحلې ټولنيزه او سياسي مشخصه ده نو د ملي ټولنې د جوړښت لپاره د اقوامو ګډېدل (امتزاج) چې يو تاريخي ديالکتيکي پروسه او د ټولنې په هراړخيز (اقتصادي، ټولنيز او سياسي) ودې پورې اړه لري چې د بورژوازۍ د ودې سره سمه وده کوي د لروبرو پښتنو ملي ټولنې جوړښت يو تاريخي ضرورت دی. نو څکه دا د لروبرو پښتونخوا ملي دنده او تاريخي رسالت دی چې د خپل اتنستي جوړښت او پيدايښت په هکله علمي څېړنې وکړي تر څو چې د پښتون ملت د ملي ټولنې د جوړښت پروسه چټکه شي. دا څېړنې له انتروپولوژۍ له لحاظه دومره ارزښت لري چې په ټولنيز او سياسي لحاظ يې لري.

ومن الله توفيق

ټول پښتون يو پښتون          پيوستون پيوستون

ډاکټر عبدالحي نيازی
افغاني کلتوري ټولنه په نيويارک کې

# د دغه اثر په باره کې د لاربنود استاد نظر

له ډېر وخت راهیسې د پښتو څېړنو بین المللي مرکز لـه خپلو اهدافو او وظایفو سره سم په دې لټه کې و چې د لرو او برو پښتنو ټولې قبیلې او د قبیلو خیلونه د یوه مکمل قاموس په توګه ترتیب او ګرانو هېوادوالو او نړیوالو ته وړاندې کړي.

نو د دغه عیني ضرورت له مخې دغه پروژه د یوې تحقیقي پروژې په حیث د دغه نړیوال مرکز له خوا ومنل شوه او د ریسرچ د انستیتوت غړی محقق (حس ګل بانډه وال) ته د سرمحقق مرستیال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره ور وسپارل شوه چې د (۱۳۶۱) کال له پیله د (۱۳۶۵) کال تر پایه پورې یې زما له لاربنوونو لاندې په ټاکلي وخت کې په بریالیتوب سر ته ورسوله.

البته په دغه برخه کې یو لړ ستونزې موجودې وې او هغه دا چې:

د دې پروژې د بشپړتیا پر وخت کې شرایط لږ ستوغ وو. نو له هم دې کبله زموږ په ګران هېواد کې د ساحوي څېړنو امکانات لنډ، تنګ، او محدود شوي وو. نو له همدې مجبوریت له مخې محترم (بانډه وال) په دغه څېړنه کې یوازې په کتابي، څېړنو اکتفا وکړه.

په دې اثر کې د برو پښتني خیلونو او د لرو پښتني خیلونو نسبي شجرې مکملې راغلي دي. البته د دواړو شجرو توپیر دا دی چې د لرو پښتنو د هرې نسبي شجرې په پای کې د (ل) توری لري او د برو پښتنو د نسبي شجرې لپاره کوم توری نه شته او هغه خیل چې لر او بر اوسي په پای کې یې د (ل - ب) توري راغلي دي چې د (لر - بر) مخفف دی. د برو پښتنو نسبي شجرې مکملې راغلې دي او هغه په دې معنی چې د قبیلو او خیلونو د معرفی په لړ کې د اشخاصو نومونه هم راغلي دي لکه: سلېمانخېل، ایزب، برهان او غلزی.

خو د لرو پښتنو نسبي شجرې ځان ته د قبیلې - خېل - کهول او کورنۍ په ترتیب راغلي دي او د اشخاصو نومونه په کې حذف شوي دي لکه مخکې شجره په دې ډول راغلې ده. سلېمانخېل، غلزي

د لرو پښتنو نسبي شجرې د لومړي ځل لپاره د يوه انګليسي کتاب څخه چې (د هند شمال لويديځ سرحدي سيمو د پښتني قبيلو ويش) په نامه دی د دې مرکز د ريسرچ د څانګې د علمي غړي دوکتور ګلجان ورور له خوا وژباړل شو خو ژباړنې دې ته اړتيا درلوده چې يو وار بيا د اصل سره مقابله او تصحيح شي هماغه و چې دغه کار محترم بانډه وال ته وسپارل شو او نوموړي وروسته له څه وخت څخه دغه کار سر ته ورساوه.

څرنګه چې په نوموړي کتاب کې ډېر اشتباهات او داسې نور مواد په کې وو چې د هغو راوړلو ته زموږ په قاموس کې اړتيا نه ليدل کېده او داسې غېر پښتني قبيلې په کې درج وې چې ور اچول يې بې ځايه وو لکه: ګوجر، چې هېڅ ما، خذ هغه پښتانه نه شي بللی. همدارنګه له داسې حقايقو څخه په کې سترګې پټې شوې وې، چې د نورو پښتني نسبو د معتبرو منابعو او کتابونو لکه مخزن افغاني، حيات افغاني، پښتانه د تاريخ په رڼا کې، تواريخ خورشيد جهان او داسې نورو منافي و. د مثال په ډول د ځينو داسې پښتني قبيلو چې د هغوی پښتونولي په مطلق ډول ثابته ده دلته يې مجهول الاصل او يا يې د يو بل نژاد مربوط ښودلي دي.

نو محقق بانډه وال د دويم ځل لپاره موظف شو چې د هغو موادو نيمګړتياوې پوره کړي او زايدې برخې يې وغورځوي او د داسې اشتباهي او غلطو نسبي شجرو د سمون لپاره نوې څېړنه وکړي او هغوی د نورو منابعو په مرسته اصلاح کړي او هره يوه شجره چې نيمګړې وي يوې پېژندل شوې قبيلې ته دې د نورو ماخذو په استناد او مرسته ورسول شي.

هماغه وو چې دغه کار نوموړي سر ته ورساوه. البته د دغو کارونو د سر ته رسولو په برخه کې ستونزې هم موجودې وې د بېلګې په ډول په انګليسي ماخذ کې د (a) توری کله د زور او کله د الف په شکل او املا سره راغي. همدارنګه د پښتو د ځانګړو تورو ستونزه يوه بله معضله وه لکه د (ړ، ږ، ډ، ډ، ڼ، ڼ) غږونه او يا د عربي الاصله نومونو تلفظ لکه د(ح،ع، هـ، الف) او داسې نورو چې د دغه رديفونو د تکرار د مخنيوي لپاره ستونزې لږې نه وې. همدا رنګه د برو پښتني قبيلو شجرې هم له ستونزو خالي نه

وي. همدارنګه کله کله د قبیلې او خېل په منځ کې حدود تاکل شوي نه دي، احمدزي او وزیر چې احمدزي کله مستقل کام بولي او کله د وزیرو یو خېل بلل کېږي. په همدې ډول یوه نسبي شجره په یوه ځای کې یوې قبیلې ته او په بل ځای کې بلې قبیلې ته رسول شوې ده. چې ستړې ګډوډۍ یې رامنځ ته کړې دي. همدارنګه ځینې داسې نومونه په دې کتاب کې درج دي چې له هغوی څخه د کومې قبیلې او یا خېل فکر نه کېده لکه: (سنتیا چې د کاکړو یوه څانګه ده). نو دغه ټولې ستونزې ترکومه ځایه چې یې امکان درلود د معتبرو ماخذو له مخې چې د برو پښتنو د نسبي سلسلې د چمتو کولو په برخه کې ورڅخه استفاده شوې ده، د قاموس په پای کې د لرو پښتنو د ماخذو سره یو ځای معرفي شوي دي.

وروسته د لرو او برو پښتني قبیلو نسبي شجرې د الفبا په ترتیب راوړل شوي او د شجرو د تکرار او د کار د لا ښه کېدو او اصلاح له پاره څېړونکي یو ځل بیا نوې کتنه وکړه او لازمې سموونې او اصلاحات یې په کې راوړل. په پای کې د دغه قاموس د ټایپ په برخه کې یادونه کوم چې دا اثر باید په تخنیکي ډول سره ټایپ شوی وای چې د ټایپست د نه درلودلو له امله په لاسي خط په څلورو کاپیو کې چمتو شو. (اصل کاپي د پښتو څېړنو د مرکز لپاره*).

زه د یو لاز ښود په توګه د محترم بانډه وال د دغه زیار ستاینه کوم او د محقق له علمي رتبې څخه یې د سرمحقق د مرستیال علمي رتبې ته د ترفیع وړ ګڼم.

سرمحقق دوست شینواری

---

* څېړونکی

# تقریظ

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز محترم ریاست ته!

ستاسو د ۵۵/۱۳۶۶-۴-۱۴ لیك له مخې د محترم محقق حسن ګل (بانډه وال) علمي تحقیقي پروژه چې د (لروبرو پښتنو شجرو قاموس) دی او د محقق له علمي درجې څخه د سرمحقق مرستیال علمي رتبې ته د جګېدو لپاره یې تالیف کړې دی او ما ته مو د نظر څرګندولو لپاره رالېږلې، په دغه باب داسې څرګندوم:

د محترم محقق حس ګل (بانډه وال) دغه قلمي غوره علمي قاموس چې ټول (۶۰۳) مخونه (اصل چې د پښتو څېړنو د مرکز لپاره په لاس لیکل شوی و[1]) کې‌یې د لرو برو پښتنو قبیلو، خیلونو، ټبو، پلرنیو او عشیرو بشپړه شجره په ترتیب د (الف) له ردیف نه نیولې د (ې) تر ردیف پورې چې زرګونو عشیرو ته رسېږي په مفصل ډول راغلي دي.

د محترم (بانډه وال) دا درونډ، علمي او تحقیقي کار په خپل ډول کې د لرو او برو پښتنو د بشپړې شجرې په برخه کې یو نوښت او ابتکار دی، دا ځکه تر اوسه پورې د پښتنو قبیلو شجره تر دې وخته پورې د قاموس په بڼه په لرو او برو پښتنوکې نه وه څېړل شوې د پښتنو د شجرو په باب کوم چې پخوا شوې، له پس منظر څخه یې داسې معلومېږي چې هغه یوازې په تاریخونو، مجلو، ورځپاڼو او جریدو کې د مقالو او ځانګړیو کتابي بابونو پورې محدود وې، چې له هغو څخه د پښتنو د شجرې په برخه کې بشپړ معلومات د شجرو مینه والو او محققینو ته په لاس نه شي ورتللې. له همدې کبله د پښتنو بشپړې شجرې ته خورا زیات ضرورت احساسېده.

دغه مهم او غوره علمي کار چې د پښتو څېړنو بین المللي مرکز له خوا محترم بانډه وال ته د یوې علمي پروژې په توګه سپارل شوی دی ډېر په ځای کار و او دغه علمي ضرورت باید د علومو اکاډیمی له خوا ترسره شوی وای.

[1] خپرونکی

ACKU

له ښه مرغه محترم باندوال په دغه علمي او تحقیقي پروژه باندې د کار له پیل نه تر پایه پورې د زیاتو ستونزو په ګاللو ډیر غور کړی او د پښتنو شجرې په باب یې له ډیرو معتبرو ماخذونو مجلو او جریدو څخه استفاده کړې ده چې نن ورځ د ده د استفادې او څېړنې خورا لویه علمي ایبره (حاصل) دا د لرو او برو پښتنو شجرو دا د کیفیت او کمیت په لحاظ لوی او درووند قاموس دی، چې په علمي لحاظ او د کار له امله بیخي ځانګړی ښکاري چې دا درووند کار د مولف د علمي دندې سره د مینې او زحمت ګاللو غوره حاصل دی. د ده د زیار او علمي هاند په کړنه او د کار په کریدیت کې یو نوی ګام شمېرل کېدای شي.

د دغې علمي پروژې د کار له ښه والي څخه دا په ډاګه جوتېږي چې مؤلف دغه اثر څو ځلې د خپلو علمي هڅو په لړ کې په غور کتلی دی چې اشتباهات او غلطۍ یې اصلاح کړې دي او بېخي زیاتې ستونزې یې په ځان منلې ده چې په پای کې یې یو چڼ شوی د پښتنو د بشپړې شجرې قاموس په ګوښي او ځانګړي ځان تالیف کړی دی چې دا پخپله بې له شکه د ده د علمي کار غوره والی او د زحمت او زیار حاصل ګڼل کېدای شي. که موږ هر څومره د ده په دغه کار او د هغه په ارزښت (لرو برو پښتنو شجرو قاموس) باندې خبرې وکړو هغومره پرې ارزي، خو په لنډه به دا ووایو چې:
محترم باندوال دغه علمي او تحقیقي پروژه په خورا بریالیتوب سرته رسولې او له حده زیات زیار یې په ځان منلی دی.

زه د محقق باندوال دغه علمي زیار او دې دراندہ قاموس ته چې د پښتنو د شجرې د کوچني دایرة المعارف ښه لري په ډیر درووند نظر ګورم او د دغه علمي کار په بدل کې محترم باندوال د محقق له علمي درجې څخه د معاون سرمحقق علمي رتبې ته د ترفیع مستحق ګڼم او د دغه قاموس د چاپولو سپارښتنه هم کوم د ده د نورو زیاتو بریالیتوبونو په هیله.

په درنښت

سرمحقق علي محمد منګل

# د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز په نوم د تقریظ لیکلو ځوابیه لیک

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز محترم رئیس صاحب!

د ښاغلي حسن گل (باندړه وال) (د لرو او برو پښتنو د شجرو قاموس) اثر مو د تقریظ لـه پاره لـه (۵۴) نمبر لیـك نـېټه (۱۳۶۶/۴/۱۳) سـره یـو ځای را استولی و هغه مې وکوت. د هغه په باب زما نظر دا دی چې:

دغه یوه په ځای او گټوره پروژه ده چې تالیفول یې یو علمي ضرورت و ځکه چې د پښتنو قبیلې او خیلونه... بیخي زیات دي نو د دغو قبیلو او خیلونو راټول، ترتیبول او بیا یې د یوه قاموس په ډول د علمي استفادې لـه پـاره وړاندې کول څه ساده او اسانه خبره نـه ده او دغه کـار د زیاتو ستونزو پـه گاللو تر سره کېدای شي. له ښه مرغه محترم باندړه وال د معاون سرمحقق علمي رتبې ته د ترفیع له پاره دغه ستونزه په غاړه واخیستله. پروژه یې په علمي توگه پیل کړې او بریالی یې پای ته رسولې او علمي اړتیا یې په علمي زیار سره پوره کړې ده.

دغه پروژه خپل خاص علمي اهمیت لري چې ښېگڼې او ارزښتونه یې داسې ښوولای شو:

۱. دالفباپه ډول یې قبیلې خیلونه او وړې څانگې ترتیب کړي دي.
۲. په افغانستان کې لومړنی قاموس دی چې د پښتنو د ایتنیکي جوړښت په باب په پښتو ژبه تالیف شوی دی.
۳. نسبتا جامع ایتنیکي قاموس دی.
۴. ژبه یې روانه او عام فهمه ده.
۵. هرڅوك ترې استفاده کولای شي.
۶. د لرو او برو پښتنو د قبیلو او خېلونو د پېژندنې له پاره گټور اثر دی.
۷. د پښتنو د ایتنیکي جوړښت او څېړنې لـه پـاره د اسان او موثر ماخذ بڼه لري.
۸. د موادو له پلوه غني دی.
۹. د تحقیق په اصولو برابره څېړنه ده.

۱۰. د یوه قاموس په ډول لیکل شوی دی.
۱۱. د زیاتې استفادې وړ دی.
۱۲. سریزه یې جامع ده.
۱۳. له زیاتو مستندو ماخذونو څخه استفاده شوې ده.
۱۴. د دغې علمي رتبې د ترفیع له پاره مناسبه پروژه ده.
۱۵. د خپلې پروژې په سر ته رسولو کې پوره بریالی دی.

نو د محترم باندیه وال دغه څېړنه په خپل ځای او خپل اهمیت سره په افغانستان کې یو ابتکار دی چې اول ځل له پاره له نورو مستندو تاریخونو څخه را وروسته د پښتنو د ایتنیکي جوړښت په باب د یوه نسبتاً جامع قاموس په حیث رامنځ ته کېږي او په پښتو ژبې په علمي لړۍ کې یو بل کتبور اثر زیات شو او له دې څخه به د تحقیق تول مینه وال ښه او پوره گټه واخلي او د یو مستند ماخذ حیثیت به ولري په همدغه علمي خدمت او زیار سره د معاون د سرمحقق لوړې علمي رتبې ته د ترفیع مستحق دی او نورو علمي بریالیتوبونو ته یې سترگې پر لاره یو.

په درناوي
سرمحقق، محمد نعیم سالارزی

# سریزه

د پښتو ژبپوهنو د نړیوال مرکز د اساسنامې او کړنلارې له مخې د پښتنې قبیلو د خېلونو قاموس یوه ارزښتناکه او ګټوره پروژه ده چې له نیکه مرغه د (۱۳۶۱) کال په دویمه نیمایي کې ما ته د سرمحقق مرستیال علمي رتبې ته د لوړېدو په هیله د څېړنې او تحقیق له پاره راسپارله شوې وه.

د یادونې وړ بولم چې دغه څېړنه په کمي او کیفي لحاظ یو درونده کار و. بنایي چې دغه څېړنه په ګروپي ډول سر ته رسېدلی وای خو هغه مینه او علاقه چې په دې برخه کې ما درلوده، زه یې دې ته وهڅولم چې دغه درنده وظیفه په خپل ټاکلي وخت. یعنې د (۱۳۶۵) کال تر پایه په بریالیتوب سر ته ورسوم. او اوس په دې خوښ یم چې د لرو او برو پښتنو (سړبني - بیټني - غرغښتي - کرلاڼي - متوزي - غلزي او لودي) قبایلو د خیلونو په برخه کې یو بشپړ او ګټور اثر خپلو هغو لوستونکو ته وړاندې کوم چې د خیلونو له پېژندلو سره مینه لري او یا یې د څېړنې یوه برخه تشکیلوي. البته په عمومي ډول د لرو او برو پښتنو د قبیلوي خیلونو د څېړنې په برخه کې مشخصې او ځانګړې ستونزې موجودې وې او هغه دا چې:

په اوس وخت کې د برو او لرو پښتنو قبیلوي څېړنې هغه هم د ساحوي څېړنې له لارې اسان کار نه و. نو ځکه ما هڅه کړې چې د کتابي څېړنې له لارې د امکان تر حده د لاس ته راغلو کتبي موادو نه په استفاده خپله څېړنه بشپړه کړم.

په دې اثر کې د لرو او برو پښتنو قبیلوي خیلونه په مشخص ډول سره د الفبې په ترتیب سره راغلي دي چې په عمومي ډول د پښتنو قبیلوي خیلونو مشخصات او خصوصیات په لاندې ډول دي

۱- د لرو پښتنو قبیلوي خیلونه:

د لرو پښتنو د هر قبیلوي خیل په پای کې د (ل) توری چې د (لر) مخفف دی راغلی دی.

هره نسبي سلسله د کوچني نه تر لوی (کورنۍ - کهول - خیل - پښه - تپه او کام) په ترتیب راغلي دي

لکه اودخیل د دري پلاري کهول کورني. ← د خسروګي خیل ←د نصرالدین پښه ← د زخه خیل تپه ←او د اپریدو قوم.
دلته ټول قبیلوي خیلونه په دغه ډول معرفي شوي او د سلسلې په ترتیب کې د اشخاصو نومونه نه دي راغلي لکه:
سلیما نخیل غلزي ...
برسېره پر دې هره نسبي سلسله د یوه نوم نه بل نوم ته له ښي لورې نه کیڼ لورې ته دوام پیدا کوي. او په همدې ترتیب هره نسبي سلسله یوه قوم اویا یوې پېژندل شوې قبیلې ته رسېدلې ده.
د ځینو قبیلوي خیلونو په پای کې د کوچیان - دیشین (دهشین) پوونده او سوداګرو مشخصات هم راغلي دي چې دا نومونه د اړوندې ځانګې ځانګړتیا او ځرنګوالی راښئي.
د ځینو نسبي خیلونو په پای کې د (ل - ب) توری راغلی دی چې د (لر او بر) مخفف دی یعني هم هلته او هم دلته شته. د یادونې وړ بولم چې د لرو پښتنو نسبي شجرې د لومړي ځل لپاره د یو انګلیسي کتاب څخه چې (د هند شمال لویدیز سرحدي سیمو د پښتني قبیلو ویش) په نامه دي، د دې مرکز د ریسرچ د څانګې د علمي غړي دکتور ګلجان وررله خوا وژباړل شو خو دا چې دې ژباړنې دې ته اړتیا درلوده چې یو ځل بیا له اصل سره مقابله او تصحیح شي نو هماغه و چې دغه کار ته زه وګومارل شوم وروسته له څه مودې، ما دغه کار سرته ورساوه په دغه کتاب کې برسېره له ډیرو اشتباهاتو داسې مواد هم وو چې په قاموس کې د هغوی راوړلو ته اړتیا نه لیدل کیده او له دې سره چې غیرپښتني قبیلې هم په کې درج وی چې په قاموس کې یې ځایول بې ځایه وو. مثلاً: ګوجر چې هېڅ ماخذ هغه پښتانه، نه شي بللی او داسې نور په دغه کتاب کې د پښتنو تر څنګه درج دي همدارنګه د داسې حقایقو څخه په کې سترګې پټې شوې وې چې د پښتني نسب لیکونو او نورو معتبرو منابعو او کتابونو له روحې سره چې په دې برخه کې موجود دي منافې وو. د مثال په ډول ځینې داسې پښتني قبیلي خیلونه ... چې د هغوی پښتونولي په مطلق ډول ثابته ده دلته یې مجهول الاصل او یا د بل نژاد مربوط ښودلي دي نو زه د دویم ځل لپاره موظف شوم چې د هغو موادو نیمګړتیاوې پوره کړم. زیاتې برخې یې وغورځوم او

د غلطو نسبي سلسلې د سمون لپاره نوې څېړنه وکړم او هڅوی د نورو منابعو په مرسته اصلاح کړم او هره سلسله چې نيمګړې وي د نورو ماخذو په استناد او مرسته يوې پېژندل شوې قبيلې ته ورسوم او دغه پښتني نسبي شجرې د يو جامع قاموس په شکل د برو پښتنو د پښتني قبيلو د خيلو سره يو ځای منسجم کړم. هماغه وو چې دغه کار مې سر ته ورساوه.

البته د دغو کارونو او مشکلاتو په څنګ کې نورې ستونزې موجودې وې د بېلګې په ډول په انګليسي ماخذ کې (a) توری کله د زور او کله د الف په شکل او املا سره راغلی و همدارنګه د پښتو ځانګړي توري يوه بله ستونزه وه لکه د (ړ. ږ. ډ. ۀ. ڼ. ښ) غږونه او داسې نور او يا د عربي الاصله نومونو تلفظ لکه د (ح. ع. هـ. الف) او داسې نور چې د دغه رديفونو د تکرار د مخنيوي لپاره ستونزې لرې نه وې.

له دې سره سره په ماخذو کې تيروتنې هم د يادونې وړ دي لکه:(Lohana) لواني. لوهانه په (Lohva) او داسې نور.

۲- د برو پښتنو قبيلوي خيلونه:

په عمومي ډول د پښتنو قبيلوي خيلونه چې په تيت او پرک ډول په کتابونو، مجلو، جرايدو او نشراتو کې راغلي دي يو لړ کډوډۍ پکې موجودې دي يو نوم په يو ځای کې په يوه املا او پر بل ځای کې په بله املا ليکل شوی لکه: (باقي خيل، بکاخيل)، (خضرخيل، خدرخيل)، (عليکوزي، الکوزي، اليکوزي)، (مسيد، مسود، مسعود)، (زاخيل، زوخيل)، (همزه خيل، بازي خيل، بوزي خيل) او داسې نور. چا د يو خيل نوم عربي الاصل بللی دی او چا پښتو بللی همدارنګه يوه نسبي شجره په يوه ځای کې يوې قبيلې ته او په بل ځای کې بلې قبيلې ته رسول شوې ده چې ستړې ګډوډۍ يې را منځته کړې دي. همدارنګه په دې کتابونو کې ځينې داسې نومونه درج دي چې د هغوی څخه د کومې قبيلوي خيل فکر نه کيده لکه مروت قبيله چې د قبيلوي جوړښت ځانګړې مشخصه د (خيل - زي) وروستاړی يې نه درلوده.

له دغو ستونزو سره ترکومه ځايه چې امکاناتو اجازه راکوله د لرو پښتنو د قبيلوي جوړښت د څېړنې په شان تحقيق شوی دی او اشتباهات اوغلطۍ يې له منځه تللي دي.

د حیرېږي میتود او روش داسې پرمخ بیول شوی دی چې کله به چې د کومې قبیلې د یوه خیل نسبي شجره را نقلیدله نو د یو بل اثر د همغې قبیلې خیل ... د نسبي شجرې سره مقایسه او پرتله کیده نو ځکه په دې حالت کې د شجرو د تیروتنو او ګډوډیو مخه تر ممکنه حده پورې نیول شوې ده او نسبي شجرې متحده الشکله شوې دي دلته هم د لرو پښتنو د نسبي شجرو په شان په قبیلوي جوړښت کې د مراتبو لړۍ په نظر کې نیول شوې دي. خو په دې توپیر چې په هره نسبي لړۍ کې په ترتیب سره د اشخاصو نومونه هم راغلي دي لکه: سلیمانخیل ← ایزب ← برهان ← غلزي. دلته هم یو نسبي نوم څخه بل ته له ښي نه کیڼ لورې ته حرکت دوام لري په ځینو ځایو کې هغه وړې پښې (ډلې) چې د ځینو عواملو له مخې د نورو نسبونو سره یو ځای شوي دي په پای کې یې د (وصلي) کلمه راغلې ده.
د لرو پښتنو د نسبي شجرې په پای کې کوم توری نښته یوازې هغه قبیله یا خیل ... چې لر او بر استوګنه لري په پای کې یې د (ل ـ ب) توري راغلي دي د یادونې وړ بولم چې دغه څیړنه یو کتابي څیړنه ده ښايي یوه نسبي شجره په برو او کله په لرو پښتنوکې ښودل شوې وي. کیدای شي چې د ځینو قبیلو یا خیلونو ځینو وړو څانګو د ځینو عواملو له مخې د وخت په تیریدو سره له یوه ځایه بل ته لیږدکړي وي او یا ځینو کوچنیو څانګو د وخت په تیریدو سره وسعت موندلي وي او یا کورنۍ یا خیلونه... او داسې نور منځ ته راغلې وي چې تر ممکنه حده پورې په دې باره کې هم څیړنه شوې ده او سمونې پکې راغلي دي.
همداراز د نومونو د حرکاتو افاده ترممکنه حده په پښتو نوې او کره لیکدود لیکل شوې ده لکه: د اتمانزي پر ځای اوتمانزي لیکل شوي دي. د دې قاموس د ښه کیدو او اصلاح لپاره هیڅ ډول هڅه نده سپمول شوې او تر ممکنه حده سموونې پکې راغلي دي.
څرنګه چې دلته د شجرې څېړنه کې دوارو څخه د لوی په لور (کورنۍ ـ کهول ـ خیل ـ پښه ـ تپه او کام) په ترتیب راغلي دی نو د یوې شجرې نوم څو واره راغلي دی نو د دې د اشتباه د مخنیوي لپاره ما لازم وګڼله چې د دې قاموس په پای کې د غټې او مشرې نسبي شجرې څخه واره خوا ته د ګرافو په ډول د قاموس په پای کې د ضمیمې په ډول او د هرې قبیلې او



ACKU

تېپې په باره کې يو څه معلومات اضافه کړم تر څو د اشتباهاتو مخه ونيول شي او دا کار مې وکړ هيله ده چې د څېړنې په وخت له تاسې سره مرسته وکړي. اميد دی چې د هغو څېړونکو لپاره يوه مثمره اوګټوره منبع وي چې د پښتنو نسب نامې په ساحه کې څېړنه کوي په پای کې د ټولو پوهانو او د نظر خاوندانو څخه هيله من يم چې د دې اثر لا ښه کيدو لپاره خپل نظريات او وړاندېزونه له ما و نه سپموي او خپلو ښو او ارزښتمنو نظرياتو سره د دې کتاب د ګټې پله لا درنه کړي. په پای کې دا يادونه هم ضروري بولم چې د پښتنو د څېړنو په ترڅ کې د محترم سرمحقق دوست شينواري (د پښتنو بشپړه يا فـي المجموع څېړنه) کتاب او د محترم طالبي د بيلابيلو قبيلو پيژندنه څه ناڅه هغه غوټې خلاصې کړې چې په مجموع کې د پښتنو د قبيلوي جوړښت څېړونکي ورسره لاس په ګريوان دي. دلته په ځان لازم ګڼم چې د خپل لارښود استاد محترم سرمحقق دوست شينواري څخه چې د دې کتاب په بشپړتيا کې يې له ما څخه هيڅ راز مرستې او لارښوونې نه دي سپمولي د زړه له کومې مننه څرګنده کړم.

همدارنګه د ريسرچ د څانګې له محترمو غړيو څخه چې د دې کتاب په بشپړولو کې يې ماته ګټورې مشورې راکړې دي د مننې اظهار هم وکړم.

په درنښت

د سرڅېړونکي مرستيال حسن ګل "بانډه وال"

## لومړی برخه

# پښتني قبيلې او خپلونه

ACKU

ACKU

**ابابکر**: سه پای ← اولاخيل ← ماپي← اپريدي.

**ابابکرخيل** (کويي خيل): تور← سپر ← ګلي← ادم خيل ← اپريدي. (ل)

**ابابکرزی**: هارون ← ملموني ← تور ← ترين.

**ابا** (اباو) **خيل**: د مخوزيوکهول ← نسوزي ← الياسزي ← بونيروال. (ل)

**اباخيل**: د بابوزيو کهول← بايزي ← اکوزي ← د سوات يوسفزي. (ل)

**اباخيل**: د تتا بيتني پښه. (ل)

**اباخيل**: د خادکزيوکهول ← خوازه زي (خواجه زي)← اکوزي ← د سوات يوسفزي. (ل)

**اباخيل**: د کوزو سالوزو کهول← بايزي← اکوزي ← د سوات يوسفزي. (ل)

**اباخيل**، (د مستورا کينه غاړه): د فتح خان خيلو کهول← اوتماخيل ← دولتزي ← اورکزي. (ل)

**اباخيل** (شيرا تلا او سپين وام): د شيخه خيلو کورنۍ← خوشالي ← توري خيل ← ابراهيم خيل ← اوتمانزي ← درويش خيل ← وزير. (ل)

**اباخيل**: شداد خيل ← ذکرخيل.

**اباخيل**، (د مومندو سيمه): مسود (مسعود) خيل← ساپي (د ساپيو يوه تپه ده چې په مومندو کې ميشته دي. (ل)

**اباخيل**: د نوريزو خيل← ماليزي ← بونيروال. (ل)

**اباخيل**: د نيکپي خيلو پښه← خوازه زي (خواجه زي) ← اکوزي ← د سوات يوسفزي. (ل - ب)

**اباخيل**: د اسماعيلزيو کهول ←دولتزي ← ماليزي ← بونيروال. (ل)

**اباخيل**، (ژمی د اسماعيل خان په ديره کې د ګارا مهربڼ په سيمه کې ژوندکوي): ايسوت خيل← ميا خيل ← لواني (پوونده). (ل)

**اباخيل**: اسماعيلزي ← اورکزي.

**اباخيل**: مشرانزي ← عنايت خيل← کمالزي ← عثمانزي.

**اباخيل**: مناخيل ← اکوخيل← رځړ← مندړ. (ل - ب)

**اباخيل**: مهلي← مومند← دولتيار← غورياخيل.

**اباخيل**: زلوزي ← سدوزي ← اوتمانزي ← مندړ.
**اباخيل**: پاله خيل ← تنا ← کجين ← بيټني.
**اباخيل**: سين خيل ← مياخيل ← لواني.
**اباخيل**: بابوزي ← بازيدزی (بايزی) ← اکوزي.
**ابازي**: اکوزي ← يوسفزي.
**ابازي**: خوازه زي (خواجه زي) کهول ← د سوات يوسفزي. (ل)
**ابازي**: نصرتزي ← بارکزي ← زيرك.
**ابازي**: نورزي ← ماپيزي ← يوسفزي.
**اباكور**: د ميمنه خيلوخيل ← خويزي ← مومند. (ل)
**ابدال**، (کويټه - پښين): د ترينو يوه غټه ټپه ده. (ل-ب)
**ابدال خيل**: کوکي خيل ← فيروزخيل ← اولاخيل ← ماپي ← اپريدي.
**ابدل**: دري نامي ← مري زي ← تني.
**ابراهيم**: خواجه کري.
**ابراهيم ټبر**: د راجي خيلو کهول ← يوسف خيل ← عيسی خيل ← مومند. (ل)
**ابراهيم خيل**: خويداد خيلو کهول ← زيمښت. (ل)
**ابراهيم خيل**، (باجوړ): د سالارزيو ښه ← ترکاني. دوی د ټپي (خان) خيل دي. (ل)
**ابراهيم خيل**: د اوتمانزيو کهول ← بر رانيزي ← اکوزي ← د سوات يوسفزي. (ل)
**ابراهيم خيل**: خربون ← خوګياني.
**ابراهيم خيل**: د تارکيال خيلوکورنۍ ← مغول خيل ← برمي خيل ← کمرخيل ← اپريدي. (ل)
**ابراهيم خيل**: سنجر ← بابر ← دوم ← چاد ← شيراني.
**ابراهيم خيل**: د قاسم خيلو کورنۍ ← قيمت خيل ← جواکي (ژواکي) ← ادم خيل ← اپريدي. (ل)
**ابراهيم خيل**: د کمالي حليمزيو ښه ← مومند. (ل)

**ابراهيم خيل**: د گدايزيوخيل ← اليا سزي ← بونيروال. (ل)

**ابراهيم خيل**، (لورلايي): د پيروزيو پښه ← زرغون. (ل)

**ابرا هيم خيل**: مندوړي ← عبدك ← دوړ. (وصلي)

**ابراهيم خيل**: بازيدي ← ماليو ← مندا خيل ← سوراني ← شيتك.

**ابراهيم خيل**: كوتي خيل ← اود ← سركي ← موسى ← ابراهيم ← غلزي.

**ابراهيم خيل**: اوتما نزي ← موسى درويش ← خدري ← وزير. (ل- ب)

**ابراهيم خيل**: د كنډي خيلوخيل ← سپاه (سه پاي) ← اپريدي. (ل)

**ابراهيم خيل**: د موسى خيلوكورنۍ ← مخوزي ← نسوزي ← الياسزي ← بونيروال. (ل)

**ابراهيم خيل**: د عليكران كهول ← ماموزي ← لښكرزي ← اوركزي. (ل)

**ابراهيم خيل**: همزاني ← بردوړ. (ل)

**ابراهيم خيل**، (لورلايي): د مولانزيو پښه ← ناصر ← غلزي. (ل)

**ابراهيم خيل** (ابراهيمزي): احمدزی ← سليمانخيل.

**ابراهيمزي**: سركاني ← اليكوزي ← زيرك

ابراهيمزي، (لورلايي) ← د زرغون ټپه. (ل)

**ا براهيمزي** (براهيمزي): د ميرهل پښه ← شيراني. (ل)

**ابراهمزي**، (د غازي خان ديرې لويديځه خوا): د مغدوزيو خيل ← بل خيل ← موسى خيل ← پني. (ل)

**ابراهيمزي**، (كو يټه – پښين): د بركزيو خيل ← تره غري ← كاكړ. (ل)

**ابراهيمزي**: نورزي.

**ابراهيمزي**: وتوزي ← ثورياني ← خويشكي ← زمند.

**ابراهيمزي**، (سيو ی): د بهرامزيو خيل ← خاجك ← پني. (ل)

**ابراهيمزي**: بازيدخيل ← اندړ

**ابراهيمزي (براهيمزي)**، (كوټه - پښين): د سرنكزي خيل ← سنتيا ← كاكړ. (ل)

**ابراهيمزي** (براهيمزي)، (لورلايي) ښادزي ← عليزي ← سنزرخيل ← کاکړ. (ل)

**ابرا هيم کور**، (لوی شلمان)؛ د دورمه کورکورنۍ ← شاه منصورخيل ← دادوخيل ← ترکزي ← مومند. (ل)

**ابراهيم کور**: د دلدارخيل کورنۍ ← محمدخيل ← کتي خيل ← حسن خيل ← ميتماخان خيل ← کوکي خيل ← اپريدي. (ل)

**ابړخيل**: اتمرخيل ← عثمان خيل ← بايېزي ← برمومند ← مومند.

**ابنزي**: ابازي ← نصرتزي ← بارکزي ← زيرک

**ابوبکر**، (کوټه - پښين)؛ د تور پښه ← ترين. (ل)

**ابوخيل**: قلندرخيل ← حسن خيل ← کټه کرام ← کجين← بيټني.

**ابوخيل**: اختون خيل ← ايسپ خيل ← بيدخيل ← خدراڼ.

**ابوخيل**: صبري ← کرلاڼي.

**ابوزي**: عثان ← موسی زي ← مومند.

**ابوسعيدزي**: سور ← سرګ ← عمر خيل ← پړنګي ← سيان ← ابراهيم لودي.

**ابوسعيدزي**: شمعون ← ښادوزي ← علي خيل ← سنجر ← تفوت ← کاکړ

**ابي خيل**: بنګي خيل ← ساغري ← بولاق ← لقمان. (ختک)

**ابيي**: موسی خيل ← منګل.

**اپا** (اپو) **خيل**: عيسی خيل ← عيسی خان نيازي.

**اپريدي** (افريدي): (د سپين غره د کرلاڼي يوه لويه پښه ده. د پېښور لويديځ او جنوب خوا ته، د بازار او باړې وادي او د تيرا ټولـه شمالي برخه) هلته د خيبري اپريديو شپږ ښې دي چې نومونه يې کوکي خيل، قمبرخيل، کمرخيل، ملك الدين خيل، سپاه او زخه - خيل دي. دوه نورې ټپې يې اکاخيل چې د اورکزيو په پولـو او ادم - خيل د پېښور او کوهاټ په منځ کې پراته دي. پرته لـه ادم خيلو ميرباش خيل ← بازيدخيل ← جواکي او کولاخيل چې د اشوخيلو يو کهول دی په اوړي تيرا ته ځي) برهان← ککي ← کرلاڼي.

**اپوزي،** (ژوب): د دعوت خيل پښه ← مندوخيل ← پني. (ل)
**اپوزي،** (لورلايي): د عمرخيلو پښه← استراني. (ل)
**اترا**: پايك ← كوكو ← مومند.
**اترپ خيل**: سملزيو پښه ← تركاني. (ل)
**اتک خيل (دويگر- زوی)**: وزير وصلي ويل کيږي چې دوی سادات دي.(ل)
**اتل خيل**: اسحاقزي ← هوتك ← غلجي (غلزي)
**اتلک**: د نيکزام خيلو کورنۍ ← تورسپار ← گلي ← ادم خيل ← اپريدي.(ل)
**اتم خيل** (اتم کلي): تمرخيل ← عثمان خيل ← بايزي ← برمومند ← مومند.
**اتمر خيل**: المر خيل ← وړه سپر کي ← سپرکي دره ← جاني خيل ← منگل.
**اتمرخيل**: عثان خيل.بايزي ← برمومند ← مومند. (ل - ب)
**اتن زي**: بيټني.
**اتوخيل**: قورتكيان ← مشواني.
**اتوخيل**: كمال كور ← حليمزي ← كوزمومند ← مومند. (ل)
**اتو خيل**: صبري ← كرلاني.
**اتوخيل**: باستانزي ← سليمانخيل ← حيجب (ايزب) برهان ← غلزي
**اتوزي**: سالا ← گدون
**اتوزي،** (سيوی): ايسا کزي ← خاجك ← پني. (ل)
**اتونزي**: بنده خيل ← حاجي خيل ← تني
**اتي خيل**: درينامي← مريزي ← تني
**اتي خيل**: (هستي خيل وگورئ). (ل)
**اتيرا**: ستورياني ← عمر ← دوم ← چاد ← شيراني.
**اتل خيل**: موسی خيل ← د کاکړو کام دی د غلزيو د اندړو سره ملحق دي

**اتوال**: اندړ ← غلجي
**اتوخیل**: د ګنداو حلیمزي ← عیسی زي ← موسی زي ← مومند
**اتوخیل**: د بوشاخیلو خیل ← کمالي حلیمزي ← مومند. (ل)
**اجړزي**: اوپي خیل ← سنجر ← تفوت ← کاکړ.
**اجمل خیل**: سلیما نخیل ← توتیزي ← بهرام ← سلار ← مروت ← لواني.
**اچار (اڅار)**: (ګزهه وادي - شمالي وزیرستان) د یوسفزیو په سیدانو کې اوسیدل او اوس د توچي د مداخیلو وزیرو کې اوسېږي. (ل)
**اچوخیل**: سندر ← سلار ← مروت ← لواني.
**اچوخیل**: عمباره خیل ← دعوت خیل ← بهمر ي ← اوتمانخیل ← برهان ← ککي.
**اچه خیل یا اچــه چــال**: د کونډي تپه. (کونډي یو کوچنی کام دی چې پوونده دي). (ل)
**اچه خیل**، (ژوب): ناصرو پښنه ← غلزي. (ل)
**اڅار**: اچار وګورئ. (ل)
**اڅکزي**: نورالدینزي ← بارکزي ← زیرك). دوی په کوټه او پښین کې مېشته دي). (ل - ب)
**احبت خیل**: محمدخیل ← الهد اد خیل ← مغد ودخیل ← کشرانزي ← عنایت خیل ← کمالزي ← عثمانزي ← مندړ
**احدکور**: دعو ت (داوتا) خیلوخیل ← خویزي ← مومند.
**احمدبیګ خیل**: د محب خیلو کورنۍ ← شیخي ←اني ← بوډي خیل ← زخه خیل ← اپریدي. (ل)
**احمدخانزي**، (**کوټه- پښین**): د کاسیانو تپه. (ل)
**احمدخــانزي**، (کوټه - پښین): د علیزیوخیل ← نصرتزي ← اڅکزي ← ابدال ← ترین. (ل)
**احمدخیل (احمد زي)**: هد ه خیل (اداخیل) ← عمرخیل ← خاځي.
**احمدخیل**، (کوټه - پښین): تره غري پښنه ← کاکړ. (ل)

**احمدخيل**: ها شم خيل ← ځاځي.

**احمدخيل**، (لورلايي) د خروټو پښه ← غلزي. (ل)

**احمدخيل**: متون ← پښتني قبيلوي (اتحاد)

**احمدخيل**: د اسماعيل خيلوکورنۍ ← مخوزي ← نسوزي ← الياسزي ← بونيروال. (ل)

**احمدخيل**: د نيکي خيلو کورنۍ ← حسن خيل ← پخي ← بوډي ← زخه خيل ← اپريدي. (ل)

**احمدخيل**: ماني خيل ← محمدخيل ← دولتزي ← اورکزي.

**احمدخيل**: لودي خيل ← دلازاك ← کودي.

**احمدخيل**: اوتمانخيل ← حسن خيل ← شيخ علي ← هوتي ← بتي خيل ← انوخيل ← تورمان ← لقمان (خټك).

**احمدخيل**: يعقوبزي ← ګنداپور.

**احمدخيل**: بيان خيل ← عمرخيل ← ځاځي.

**احمدخيل**: مماخيل ← اچوخيل ← سندر ← سلار ← مروت ← لواڼي.

**احمدخيل**: سلطاني ← شهابي خيل ← فتح خيل ← عليزي ← مسعود.

**احمدخيل**: درمان ← خوګياڼي.

**احمدخيل**: سډن خيل ← سپرکي ← کالو خيل ← احمد زي ← درويش خيل ← وزير.

**احمدخيل**: شاهو خيل ← اسحا ق ← عمرخيل ← پړنګي ← سياني ← ابراهيم لودي.

**احمدخيل**: عيسى خيل ← نيازي.

**اخمدخيل**: توچي خيل ← تور ← سرګ ← عمر خيل ← پړنګي ← ابراهيم لودي.

**احمدخيل**: تروني (وصلي) ← عبدك ← دوړ.

**احمدخيل**: مانيزي ← رزړ ← مندړ.

**احمدخيل**: يوسفزي خيل ← خضرزي ← رزړ ← مندړ

**احمدخيل**: بازك خيل ← براهيمزي ← تري (كندا پور) ← اوستراني.
**احمدخيل**: نصرالدين خيل ← مليزي ← موسكي ← پوك ← سورياني.
**احمدخيل**: زيره خيل ← امخاني يا امزوني ← دوړ (وصلي)
**احمدخيل**: مما ← اچوخيل ← سندر ← سلار ← مروت ← لواني.
**احمدخيل**: غازي خيل ← شيخ عمر خيل ← ملكمير ← ملتاني خيل ← بهادينزي ← محمد ← عيسى خيل ← عيسى خان نيازي.
**احمدخيل**: ممون خيل ← محمدعيسى خيل ← عيسى خان نيازي.
**احمدخيل**: تاجي خيل ← خواص خيل ← چوهړ خيل ← دريا ← بوبن ← ښادي خيل ← مندك ← ادريس ← سرهنك ← الا ← خاكو ← نيازي.
**احمدخيل**: تولاخيل ← ځدران.
**احمد خيل**: سانګ خيل ← سپركي ← كالوخيل ← احمدزي ← درويش خيل ← وزير.
**احمدخيل**: نذري خيل ← سكندر ← استان خيل ← كاسي خيل ← عمرخيل ← مشاني ← نيازي.
**احمدخيل**: يعقوب ← مومند ← دولتيار ← غورياخيل.
**احمدخيل**: عمرزي ← خضرزي ← رزړ ← مندړ.
**احمدخيل**: بريا خيل ← محمودزي ← رزړ ← مندړ.
**احمدخيل**: خاتو نخيل ← ملكزي ← رزړ ← مندړ.
**احمدخيل**: عزيزخيل ← سهيل ← بايزي ← اكوزي.
**احمدخيل**: د تارتيا كهول ← عيدك ← تپي زاد ← دوړ. (ل)
**احمدخيل**: د سلطاني كهول ← شابي خيل ← عليزي ← مسعود. (ل)
**احمدخيل**: د څروټي پښه ← غلزی ← پوونده. (ل)
**احمدخيل**: د شيرين خيل كهول ← عمرخيل ← جګاخيل ← نونا خيل ← بهلولزي ← مسعود. (ل)
**احمدزي**: (د بوري وادي - لورلايي): د ميرزي كهول ← عليزي ← سترږخيل ← كاكړ. (ل - ب)

احمد زي، (ژوب) د اسمعيلزيو کهول ← عليزي ← سنزر خيل ← کاکړ (ل.ب)

احمدزي، (د کرمې د سيند کيڼ ساحل - وانه - شاکي او نور - د **مسعودو** سيمه): درويش خيل ← خدري ← وزير ← (د **احمدزيو وزيرو دوی** پښې) کالوخيل ← سين يا شين خيل) دي (ل)

**احمدزي**، (د اسماعيل خان په ديره اوخه يې په ژوب کې د پهارپور په سيمه کې په ژمي استوګنه کوي): د سليمانخيلو يوه لويه پښه ← غلزي پوونده (ل - ب)

**احمدزي**: د پوونده دو تانيو يوه لويه تپه ده (ل)

**احمدزي**، (ژوب): د کبلزيو کورنی ← حسنزي ← کبزي ← سنزرخيل ← کاکړ (ل)

**احمدزي**، (ژوب): د مامزي کهول ← حيدرخيل ← مندوخيل ← پني (ل)

**احمدزي**، (لورلايي): د ماليزي خيل ← رخنوال ← لوني ← پني (ل)

**احمدزي**، (سيوي): د لواني پښه ← پني (ل)

**احمدزي**، (لورلايي): د نوهزي پښه ← ايسوت ← غورغښتي (ل)

**احمدزي**: ابابکرزي ← هارون ← ملموني ← تور ← ترين

**احمدزي**، (د غازيخان ديرې لويديځه خوا) د منګزي خيل ← لهرزي ← موسی خيل ← پني (ل)

**احمدزي**: عمرزي ← دوتاني ← ابراهيم لودي

**احمدزي**: سليمانخيل ← توتيزي ← بهرام ← سلار ← مروت ← لواني

**احمدزي**: ګګلزي ← همړ ← سترياني

**احمدزي**: تپي ← مروت ← لواني

**احمدز ي**: شمعون ← بنادوزي ← علي خيل ← سنجر ← تفوت ← کاکړ

**احمدزي**: اوپي خيل ← سنجر ← تفوت ← کاکړ

**احمد زي**: ادينزي ← احمند ← بلبل ← موسی خيل ← ساهنګ ← پني ← داني

**احمدکزي**، (پاسون- کابل سيند) د ککوزيو پښه (د مومندو سره گډ شوي دي) (ل ب)

**احمدي کور**: د محمدخان کور خيل ، برهان خيل ، پنډيالي مومند (ل)

**احمد** (رهمند): توخي ، ماړو ، توران ، غلزي

**اخترخيل**: برهم خيل ، تولاخيل ، خدران

**اخترزي**، (سيوي) د عمرزيو خيل ، خاجك ، پني (ل)

**اخترزي**، (ژوب) د ابراهيمزيو کورني ، بادوزي ، عليزي ، سنزرخيل ، کاکړ (ل)

**اختون خيل**: اليپ خيل ، بيه‌خيل ، خدران

**اختيار**: د غلام خيل کورنی ، علي ، کاکا خيل ، بامي ، نصريي ، کالوخيل ، احمدزي ، درويش خيل ، خدري ، وزير (ل)

**اختيار خيل**: د يار علي خيلوخيل ، کمري خيل ، اپريدي (ل)

**اختيارخيل**: د محب خيلو کورنی ، شيخي ، اني ، بودي ، زخه خيل ، اپريدي (ل)

**اختيارخيل**: سروان خيل ، يعقوبزي ، گنده پور

اختيارکور، (لوی شلمان): د دورمه کورکورنی ، **شاه منصورخيل** ، دادوخيل ، ترکزي ، مومند (ل)

**اختي خيل**: د مريم خيلوکهول ، دريه خيل ، ماليزاد ، دوړ (ل)

**اختي خيل**: خواجه خيل ، يعقوبزي ، گنده پور

**اخلي خيل** (**خلي خيل**): پاينده خيل ، اسماعيل خيل ، بهمري ، اوتمانخيل ، برهان

**اخوخيل**: مروزي ، بولاق ، لقمان (ختك)

**اخوروال**: تتارخيل وگوري (ل)

**اخوزاده گان**: عيسی زي ، ترکاني

**اخوزي**: گگلزي ، همړ ، ستورياني

**اخوزي**، (کوټه پښين) د اڅکزي خيل ، ابدال ، ترين (د بادزيو سره چې د اڅکزيو خيل دی ورگډ شوي دي) (ل)

**اخون خيل**: د الايي وانو تپه (ل)
**اخون خيل**، (چغرزي- بوه برخه په بونير او تورغره کې) روحاني ډله ده او په کومه خاصه تپه نه ورګډيږي (ل)
**اخوند** (دويګر خوی) وزير (وصلي)، ويل کيږي چې دوی سادات دي.(ل)
**اخوند**: تيتي مده خيل ← اوتمانزي ← وزير (ل)
**اخوندان**: د تارتيا کهول ← عيدك ← تپي زاد ← دوړ (ل)
**اخوندان**: د ابراهيم خيلو کورنۍ ← زيراخيل ← امزوني ← ماليزاد ← دوړ (ل)
**اخوند خيل**: مش خيل ← علي خيل ← ايزب ← (ابراهيم) برهان ← غلزي
**اخوندزاده ګان**: بانده وال وګوري.
**اخوندخيل**: تپي ← نوړړ ← ميري ← کيوي ← شيتك.
**اخيزي**: نورزي.
**اخيل**: د سوني خيلوکورنۍ ← زرغون خيل ← ګلي ← ادم خيل ← اپريدي (ل)
**اخيل**: اسمعيلز ي ← اورکزي (ل- ب)
**اداخيل**: د اوتمانخيلو کورنۍ ← اليپ خيل ← زلي خيل ← بومي ← نصري ← کالوخيل ← احمدزي ← درويش خيل ← وزير (ل)
**اداخيل**: (دوی په شمسي خيلو مشهور دي) شمسي خيل وګورئ (ل)
**ادب خيل**، (بنو- چيري-کرمه): د سيدخيلو کورنۍ ← عمرزي ← سني خيل ← احمدزي ← درويش خيل ← وزير (ل)
**ادرزي**، (لورلايي) د کودزي خيل ← سنزرخيل ← کاکړ (ل)
**ادرکزي**، (کويټه- پښين): د عليزيوکهول ← نصرتزي ← اڅکزي ← ابدال ← ترين (ل)
**ادروخيل**: عباس خيل ← مهتر خيل ← دعوت خيل ← بهمري ← اوتمانخيل ← برهان
**ادريزي**: د عليزيو پښه ← اوتمانخيل (ل)

**ادريس خيل:** ميري خيل ، برکويټ ، تري ، تورمن ، لقمن ، (خټك)
**ادريسزي:** کتوزي ، ياسي ، غورغښتي.
**ادريمزي:** جبارخيل ، سلطان باستانيزي ، سليمانخيل ، ايزب ، (ابراهيم) برهان ، غلزي.
**ادريمزي،** (ژوب) د ميرزيو کهول ، عليزي ، سنزر خيل ، کاکړ (ل)
**ادم خيل:** درکړي ، وړسبون ، بيټني.
**ادم خيل:** مسن خيل ، اکاخيل ، علي خيل ، ايزب ، برهان (ابراهيم) غلزي
ادم خيل: مرادي خيل ، ښر ، زرين ، عيسك خيل ، ميرداد خيل ، کټ خيل ، ممد ، اچوخيل ، سندر ، سلار ، مروت ، لواني.
ادم خيل: بچکي ، تور ، جاني خيل ، ولي خيل ، اوتمانزي ، درويش خيل ، خدري ، وزير.
ادم خيل: بدور ، تفض ، مشواني.
ادم خيل: يزيدي ، ماليو ، منداخيل ، سوراني ، شينك.
ادم خيل: نصرالدين خيل ، مليزي ، موسکي ، پوك ، سوراني.
**ادم خيل،** (پېښور او کوهاټ دره)، د تيرا ادم خيل (د خيبر څخه پرته اپريديو له دوو پښو څخه يوه پښه ده چې دوی په اوړي کې کوم ځای ته نه ځي) (ل - ب)
**ادم خيل:** د وارګيراخيل ، دنا ، بيټني (ل)
**ادمزي:** محمدزي ، يونس خيل ، رهمند ، توخي ، بارو ، توران ، غلزي.
**ادمزي:** مسود ، ساپي
**ادمزي:** اوتمانخيل ، تپي.
**ادن خيل:** ملاخيل ، غلزي (وصلي)
**ادو خان کور:** د عمر خان خيلو کهول ، عليشېرزي ، لښکرزي ، اورکزي (ل)
**ادوخيل:** اديه خيل ، حروتي

**ادوخېل:** يسين خېل ← کيوي ← سنجر ← نفوت ← کاکړ.
**ادوخېل:** د عليکران کهول ← ماموزي ← لنبکرزي ← اورکزي (ل)
**ادوزي،** (لورلايي) د کيبزي پښه ← سنزرخيل ← کاکړ (ل)
**ادوزي،** (کويټه - پښين) د نصرتزيوکهول ← اڅکزي ← ابدال ← ترين (ل)
**ادوزي،** (لورلايي) د اوسترانيانو پښه ← شيرانيان (وصلي) (ل)
**ادي خېل:** اوتمانخيلو کورنۍ ← زلي خيل ← بامي خيل ← نصرالدين ← کالوخيل ← احمدزي ← درويش خيل ← وزير (ل)
**اديزي:** اسحاقزي ← هوتك ← غلزي.
**ادين:** خواجه کري.
**ادين خيل:** سروانخيل ← يعقوبزي ← گنده پور.
**ادين خيل** ← سيسـ... (سـه ـده) دولت خيل ← اباخيل ← زلـوزي ← سدوزي ← اوتمانزي ← عثمان ← مندړ.
**ادين خيل:** مايار ← وردگ.
**ادين خيل:** سلطانخيل (سمراز - سرانه) ← سليمانخيل ← حيجب ← (ايزب) برهان ← غلزي.
**ادين خيل:** قيصرخيل ← سليمانخيل ← غلزي.
**ادين خيل:** د بابي خيلو کهول ← حمزه خيل ← د گنداو حليمزي ← مومند (ل)
**ادين خيل:** ريمي ← ممش خيل ← خواژك (خاجك) ← پوك ← سورياني.
**ادين خيل:** اسماعيل خيل ← زنگي خيل ← باقرخيل ← بوبوخيل ← سانده خيل (درې پلاره) ← تاخوري ← جانوخيل ← موسى خيل مروت ← لواني.
**ادين خيل،** (ژوب) د ملا خيلو پښه ← غلزي. (ل - ب)
**ادينزي:** احمند ← بلبل ← موسى خيل ← ساهنگ ← پنې.
**ادينزي:** خواجوزي ← اکوزي.
**ادينزي:** الدرزي ← متيزي ← منصور ← گدون.

**ادينزي**: کجين ، بيټني
**ادينزي**، (د ژوب شمال ته): د خويداد زيو کورنۍ ← ښادوزي ← **عليزي** ← سنزرخيل ، کاکړ (ل)
**ادينزي**، (ژوب): د کيپيو ښنه ← شيراني (ل)
**ادينزي**، (ژوب): د ماليزيو کورنۍ ← حسنزي ← کيبزي ← **سنزر خيل** ← کاکړ (ل)
**ادينزي**، (اوچه - شيوا – او د رامورا درې): **خواجه زو** (خوازه زو) **خيل** ← اکوزي ← د سوات يوسفزي (ل)
**ادينزي**: نورزي
**ادينزي**، (سيوی): د سارنګزيو کهول ← **هارون خيل** ← **سنتيا** ← کاکړ (ل)
**ادينزي**، (لورلايي ): د **بل خيلوخيل** ← **موسی خيل** ← پڼي (ل)
**ادينزي**، (لورلايي): د موريزيو ښنه ← **ايسوت** ← **غرغښتي** (ل)
**ادينه زي**: ښاديزي ، احمدزي ← ادينزي ← احمند ← بلبل ← **موسی خيل** ← ساهنګ ، پڼي
**ادينه زي**، (ژوب): د مولازي کورنۍ ← پانيزي ← **هارون خيل** ← سنتيا ← کاکړ (ل)
**ادينه زي**، (ژوب): د خويداد زيو خيل ← **سنزرخيل** ← کاکړ (ل)
**اديه خيل**: خروټي
**اډواني**، (لورلايي): د سپين ښنه ← ترين (ل)
**اذرخيل**: براهيمزي ← کونډي ← عيسی ← خاکو ← نيازي ← ابراهيم لودي
**اراخيل**: د غلام خيلوکورنۍ ← هيبت خيل ← جواکي ← ادم خيل ← اپريدي (ل)
**ارام خيل**: (خيسورا او شوال وادی): د بچګي کورنۍ ← تور ← جاني خيل ← ولي خيل ، اوتمانزي ← درويش خيل ← وزير (ل)
**ارخيل**، (**ارني خيل**): حيدرخيل ← اسماعيل خيل ← کرلاڼي
**اردوزي**: کوجنزي ، اڅکزي

ارغوند: ماليزاد ← دوي د ماليزاد د اتو پښو څخه يوه پښه ده. (ل - ب)
**ارکانړي،** (ژوب): د خلوزيو کورنۍ ← بادينزي ← عبداله زي ← سنزرخيل ← کاکړ. (ل)
**ارګند خيل:** دخي ← خيبي خيل ← مريزي ← تني ← شيتک.
**ارسياخيل:** مرزاخيل ← اسدخيل ← ووژي (درزي) خيل ← محمودخيل ← اوتمانزي ← درويش خيل ← خدري ← وزير. (ل - ب)
**ارمي خيل،** (ژوب): د حيدرخيلو پښه ← مندوخيل ← پني. (ل)
**ارند:** پرنګی ← سياني ← ابراهيم لودي.
**اروزي،** (ژوب): د حسن خيلو پښه ← شيراني. (ل)
**اريوزي (اريزي):** تني ← شيتک.
**ارنګ برنګ:** د مدک کورنۍ ← بدا ← اصيل ← اسماعيلزي ← اوتمانخيل. (ل)
**ازادخيل (ازارخيل):** مموزي ← اکاخيل ← علي خيل ← ايزب ← برهان (ابراهيم) غلزي.
**ازاد خيل:** يوسف خيل ← اکا خيل ← علي خيل ← ايزب ← برهان (ابراهيم) ← غلزي.
**ازاد خيل:** علي بغان خيل ← اکاخيل ← علي خيل ← ايزب ← برهان ← غلزي.
**ازادخيل:** هاتهي خيل ← علي خان ← قلي خيل ← برت خيل ← دادي خيل ← فيروزخيل ← ميردادخيل ← کشاخيل ← مما ← اچوخيل ← سندر ← سلار ← مروت ← لواني.
**ازادخيل (سپاه):** د عليکران کهول ← مموزي ← لښکرزي ← اورکزي. (ل)
**ازادخيل:** د سلطان خيلوکهول ← شيرګلی ← اکاخيل ← اپريدي. (ل)
**ازادخيل:** د ببل خيلوکورنۍ ← خويدادي ← ملکشاهي ← ايمل خيل ← بهلولزي ← مسعود. (ل)
**ازاد (خيل):** د تره خيلوکهول ← بوبا ← دينا ← (دنا) بيټني. (ل)
**ازادخيل:** د خويدادخيلو خيل ← قمري (خيل) اپريدي. (ل)

ازارخيل: مهندرخيل ، مسوخيل ، خدوخيل ، سندر ، سلار ، مروت ، لواني
**ازارخيل**: د دوربي خيلو كهول ، قمبرخيل ، اپريدي (ل)
**ازدازي**، (كويټه - پښين) باديزي كهول ، اڅکزي ، ابدالي ، ترين (ل)
**ازدي خيل**: د شاهي خيلو کورنۍ ← منظرخيل ، عزيز خيل ، نظرخيل ، ايمل خيل ، بهلولزي ، مسعود (ل)
**ازدي خيل**: د سدن خيلوكورنۍ ← خويدادي ← ملکشاهي ← ايمل خيل ، بهلولزي ، مسعود (ل)
**ازرمير خيل** (هزارسير خيل): د سکندرخيلو کورنۍ ← عبدلخيل ← بوراخيل (بورك خيل) ← محمودخيل ← اوتمانزي ← درويش خيل ← وزير (ل)
**ازغرخيل** (اصغرخيل): عباس خيل ← متوخيل ← مارزك ← ادوخيل ← اديه خيل ← خروټي
**ازغرخيل**: سپاهي ← ميرخان ← خواص خيل ← عمر خاني خيل ← سليمانخيل ← توتيزي ← بهرام ← سلار ← مروت ← لواني
**از غري خيل**: نعمت خيل ← توران ← باله خيل ← تتا ، كحين ← بيتني
**ازغري خيل**: پيره خيل ← كنزي ← كته گرام ← كجين ← بيتني
**ازک خيل**: يحی خيل ← احمدزي ← سليمانخيل
**ازل خيل**: بدرخيل ← جبارخيل ← گلي خيل ← متك ← عيسك خيل ← ميردادخيل ←كشاخيل ← مما ← اچوخيل ← سندر ← سلار ← مروت ← لواني
**ازل خيل**: متي خيل ← برخي خيل ← باقي (بكا) خيل ← ولي خيل ← درويش خيل ← خدري ← وزير
**ازيخيل**: باره خيل ، سه سده ← كنازي ← اوتمانزي ← منډړ
**ازيخيل**: پره څمکني
**ازيخيل**: علي خيل ، جلم ، رانيزي
**ازيخيل**: سرغښ ، بازيد ، هانيزي ، رزړ ← منډړ

اريخيل: د برو سولوزيو کهول ← بابزي ← اکوزي ← د سوات يوسفزي.(ل)
اريخيل: د علي خيلو کهول ← برانيزي ← اکوزي ← د سوات يوسفزي.(ل)
**اساروخيل**: سور ← اسماعيل ← سياني ← ابراهيم لودي.
**اساکي خيل**: د لنګر خيلوکهول ← ګيدي خيل ← منزي ← عليزي ← مسعود. (ل)
**اسپايي**، (ژوب): د خدراني پښه. (ل)
**اسپايي**، (سيوی): د مخيني خيل ← تور ← ترين. (ل)
**اسپايي خيل**: چندوخيل ← جانوخيل ← موسى خيل ← مروتو ← لواني.
**اسپندزي**: جلواني ← چاد ← شيراني.
**اسپوي خيل** (اسپوي): ميزاي ← خدراڼ.
**استان خيل**: کاسي خيل ← عمرخيل ← مشاني ← نيا زي.
**استاني** (خيل): د شابي خيلوخيل ← عليزي ← مسعود. (ل)
**استان خيل**: احمد خان ← موسى خيل ← درې پلاري ← بهرت ← سرهنګ ← الا ← خاکو ← نيازي.
**اسحا قزي**: پنج پای.
**اسحاقزي**: سور ← سرګ ← عمرخيل ← پرنګي ← سياني ← ابراهيم لودي.
**اسحاقزي**: يعقوب خيل ← اسماعيلزي ← امازي ← عثمانزي ← مندړ.
**اسحاقزي**: (ساګزي وګورئ).
